لقمان حكيم حكمت

# نبوي استعاذات



www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# نبوي استعاذات

ليكوال:

لقمان حكيم حكمت

كال ١٦/٦/٢٠٢٠م

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# یادونه:

په ټولنیزو رسنیو کې د اسلامي لاربښود سایټ د نوم په یادونې سره هر چاته دکتاب نشرولو اجازه ده، خو په کتاب کې بدلون او تغیر راوستل او یا په خپل نوم د خپلې لوګو سره خپرول اخلاقي او شرعي جرم دي ، خو زمونږ له بیا ځلې یادونه سره بیا هم دا ناوړه کړنه د فیسبوک او ټلیګرام په لیکه ځینې تش په نامه مکتبې ترسره کوي، باید په راتلونکي کې له دې پلیت او قبیحه عمل څخه جدي ځان وساتي.

**په درنښت**

**د اسلامي لاربښود سایټ اداره**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د چاپونې ټولې ربښتې د ژباړن سره خوندي دي

## د کتاب ځانګړني

---


د کتاب نوم: نبوي استعاذات

لیکنه : لقمان حکیم حکمت

کمپوز : ژباړن

چاپ کال : ۲۰۲۰م

چاپ شمېر: ناچاپ

خپرندوی: اســلامي لاربښود ســـایټ


---

هیواد والو د دیني پوهاوی باورې سرچینه

Www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

## پېلیزه

الحمد لله، والصلاة والسلام علی رسول الله، وعلی آله وأصحابه ومن والاه، ومن دعا بدعوته ومن اهتدی بهداه.

وبعد:

استعاذه په عبادتونو کې مستقل عبادت دی او مفهوم یې الله پاک ته التجاء کول دي، او په دې کې شک نشته چې الله پاک ته التجاء ورل هغه څه دي چې مسلمان له ټولو شرونو څخه ځان ژغورلو ته پوره اماده کوي، که څه هم شر او شرارت هغه څه دي چې الله پاک د انسان لپاره مقدَّر کړي دي نو ځکه استعاذه د الله پاک جلیل القدر اطاعت شمېرل کیږي او انسان وربانديې الله پاک ته ډېر زیات نزدې کیږي، هم پرې ورته ثواب ورکوي او هم یې له شرونو او شرارت څخه خوندي ساتي.



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

په دې خاطر چې زمونږ نفسونه خوندي پاتې شي د زړونو په علاج معالجې کې دا هر څه پټ دي ترڅو زړه د ذکر او اذکارو او له نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه په ماثورو مسنونو دعاګانو باندې صالح پاتې شي.

د استعاذې د دې عظیم مقام له کبله مونږ وغوښتل چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم استعاذات راغونډ کړو او پښتو ته يې ترجمه کړو ترڅو پښتانه ورونه ورڅخه ګټور شي، الله پاک دې زمونږ دا عملونه قبول کړي او د دنيوي او اخروي خزي او خذلان څخه دې الله پاک زمونږ لپاره د نجات ذريعه وګرځوي. امين.

**لقمان حکیم حکمت**

**Hekmat.٣٤٤@gmail.com**

**٢٧ /شوّال/ ١٤٤١**

**١٩ / جون / ٢٠٢٠**



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ځلور تکلیف ده شیان:**

عـن أبي هريـرة رضي الله تعـالى عنه قـال: " كـان رسـولُ اللهِ صـلَّى اللهُ عليـه وسـلَّم يَتَعَـوَّذُ مِـن جَهـدِ الـبلاءِ، ودَرَكِ الشَّـقاءِ، وسـوءِ القَضاءِ، وشَماتَةِ الأعْداءِ" (البخاري:٦٣٤٧).

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به لـه تـوان پورتـه تكليـف نـه، د سختيو له انتها نه، لـه ناكـاره فيصلـي او د دښـمن لـه خوشـحالۍ نـه پنـاه غوښـته. صـحيح البخـاري: ۶۳۴۷ )، د ابـوهريره رضي الله عنه په روايت.

**له دجال نه ويريږه:**

عن أبي هريـرة رضي الله تعـالى عنـه قـال: قـال رسـولُ اللهِ صـلَّى اللهُ عليـه وسـلَّم: "مَـن أطـاعني فقـد أطـاعَ اللَّهَ ، ومَـن عصـاني فقَـد عصى اللَّهَ وَكانَ يتعـوَّذُ مِـن عـذابِ القبرِ ، وعـذابِ جَهـنَّمَ ، وفتنـة الأحياءِ والأمواتِ ، وفتنةِ المسيحِ الدَّجَّالِ" (النسائي:٥٥٢٥).

رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: څـوک چـي زمـا اطاعـت وکـړی نـو د الله اطاعـت يـي وکـړ، او کـه څـومي



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

نافرماني وکړي نو دالله نافرماني يې وکړه، او نبي صلی الله علیه وسلم به د قبر له عذاب نه، د جهم دعذاب نه، د ژوند او مرگ له فتنې او دمسيح الدجال له فتنې پناه غوښته. ( سنن النسائي: ۵۵۲۵ ، د ابوهريره رضي الله عنه په روايت ).

**له عذاب قبر نه پناه وغواړه:**

عن أم المؤمنين عائشة رضي الله تعالى عنها قالت: قال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: "اللَّهمَّ ربَّ جَبرائيلَ وميكائيلَ، وربَّ إسرافيلَ، أعوذُ بِك من حرِّ النَّارِ، ومن عذابِ القبرِ"(النسائي:٥٥٣٤

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ای الله! دجبرائيل او میکائيل او داسرافيل ربه! له تا پورې د اور له گرموالي او د قبر د عذاب نه پناه غواړم. ( سنن النسائي: ۵۵۳۴ ، د عائشې رضي الله عنها په روايت )



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**ارذل العمر د ژوند ترخه برخه:**

كـان سَـعْدٌ يَـأمُرُ بخَمـسٍ، ويَـذْكُرُهُنَّ عَـنِ النبـيِّ صـلَّى اللهُ عليـه وسلَّم أنه كان يأمُرُ بهِنَّ: (اللَّهُـمَّ إني أعـوذُ بـكَ مِـنَ البُخـلِ، وأعـوذُ بِـكَ مِـنَ الجُبنِ، وأعـوذُ بِـكَ أنْ أُرَدَّ إلى أرْذَلِ العُمُـرِ، وأعـوذُ بِـكَ مِـن فِتنَـةِ الـدُّنْيا -يَعنـي فِتنَـةَ الـدَّجَّالِ- وأعـوذُ بِـكَ مِـن عَـذابِ القَبرِ)" (البخاري:٦٣٦٥).

نبـي صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: اى الله! زه لـه تـا پـورې لـه بخل نه، له بوزدیلۍ نـه، لـه ارذل العمـر نـه، د دنیـا د فتنـې نـه او د عذاب قـبر نـه پناه غـواړم. ( صـحيح البخـاري: ۶۳۶۵ ، د سـعد رضي الله عنه په روایت .

**بې عمله علم او بې خشیته زړه:**

اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِـنْ عِلْـمٍ لَا يَنْفَـعُ، وَمِـنْ قَلْـبٍ لَا يَخْشَـعُ، وَمِـنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا

رسول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: اى الله! زه لـه تـا پـورې له هغه علم نه چې ګټه نـه شي رسـولی، لـه هغـه زړه نـه خشـيت


الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

په کې نه وي، او نه د هغه نفس نه چې نه مړېږي او له هغې دعا نه چې نه قبلیږي پناه غواړم . ( صیح مسلم: ۲۷۰۶ ، د زید بن ارقم رضي الله عنه په روایت ).

**د الله دعذابونو نه پناه غوښتل:**

عن عبد الله بن عمر رضي الله تعالى عنهما قال: " كان من دعاء رسولِ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ "اللهمَّ! إني أعوذُ بك من زوالِ نِعمتِك، وتحوُّلِ عافيتِك، وفُجاءَةِ نِقمتِك، وجميعِ سُخطِك" (مسلم:۲۷۳۹).

نبي صلى الله عليه وسلم به ويل: اى الله! له تا پورې پناه غواړم چې ستا نعمت رانه زوال شي، ستا عافیت راڅخه واوړي، ستا د نا څاپه عذاب او د ټولې غصې نه نه درپورې پناه نیسم . ( صحیح مسلم: ۲۷۳۹ ، د عبدالله بن عمر رضي الله عنه په روایت ).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**شیطان انسان ته دمرګ په مورچه کې :**

عـن أبـو اليسر۔ كعـب بـن عمـرو رضي الله تعـالى عنـه قـال: قـال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليـه وسـلَّمَ: "اللهـمَّ إنِّي أعـوذُ بـك مـن الـتردِّي والهدْمِ والغرقِ والحـرقِ، وأعـوذُ بـك أن يتَخبطَني الشـيطانُ عنـد المـوتِ، وأعـوذُ بـك أن أمـوتَ في سـبيلِك مُـدْبرًا، وأعـوذُ بـك أن أموتَ لديغًا" صححه الألباني في (صحيح الجامع:١٢٨٢).

رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: ای الله زه لـه تـا پـورې له راغښتو نه، د ړنګېـدو نـه، د غرقېـدو نـه، د سـوځېدو نـه پنـاه غـواړم، او درپـورې پنـاه نیسـم چـې شـیطان مـې د مـرګ پـه وخت کې عقل او دين فاسـد کـړي، او درپـورې پنـاه نیسـم چـې ستا په لاره کـې شکسـت زده ومـرم او درپـورې پنـاه نیسـم چـې چیچـل شـوی مـړ شـم. ( صـحيح الجـامع: ١٢٨٢ ، د ابواليسر۔ رضي الله عنه په روايت .

**جامعه پناه:**

عن أنس بن مالك رضي الله تعالى عنه قال: كان رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ إذا دخلَ الخلاءَ قال: "اللهم إني أعوذُ بك مِن الخُبْثِ، والخبائثِ" (مسلم:٣٧٥).

نبی صلی الله علیه وسلم چې به کله تشناب ته ننوتو ويل به يې: ای الله! له تا پورې د نارينه او ښځينه شيطانانو نه پناه غواړم. ( صحيح مسلم: ٣٧٥ ، د انس بن مالک رضي الله عنه په روايت ).

**له خيانت او ولږې نه پناه:**

عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال: قال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: "اللهمَّ إنِّي أعوذُ بك من الجوعِ، فإنَّه بئْسَ الضجيعُ، وأعوذُ بك من الخيانةِ فإنَّها بئستُ البِطانةُ" صححه الألباني في (صحيح الجامع:١٢٨٣).

نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: ای الله! زه له تا پورې له ولږې نه پناه غواړم ځکه ولږ د اړخ بد ملګرى دى، او له تا پورې له خيانت کولو نه پناه غواړم ځکه خيانت ناکاره



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

باطني خصلت دی. ( صحیح الجامع: ۱۲۸۳، د ابوهریره رضي الله عنه په روایت )

**بد خصلتونه وپېژنئ؟**

عن أنس بن مالك رضي الله تعالى عنه قال: قال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: "اللهمَّ إنِّي أعوذُ بك من العجزِ والكسلِ، والجبنِ والبخلِ، والهرمِ، والقسوةِ، والغفلةِ، والعيْلةِ، والذلةِ، والمسكنةِ. وأعوذُ بك من الفقرِ والكفرِ، والفسوقِ والشقاقِ والنفاقِ، والسمعةِ والرياءِ. وأعوذُ بك من الصممِ، والبُكمِ، والجنونِ، والجُذامِ، والبَرَصِ، وسيِّئِ الأسقامِ" صححه الألباني في (صحيح الجامع:١٢٨٥).

رسول الله صلى الله عليه وسلم به ويل: ای الله له تا پورې زه له سستۍ نه، له ناراستۍ نه، له بوزدیلۍ نه، له بخل نه، له سخت بوډاوالي نه، له سخت زړیتوب نه، له غفلت نه، له فقر او فاقت نه، له سپکاوۍ نه، له کفر نه، له فسق نه، له دښمنۍ نه، له نفاق نه، له مشهورتیا او ریاء نه، له کوڼوالي



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

نه، له ګونګتوب نه، له لیونتوب نه، له جذام نه، له سپینکي رنځ او له ټولو بدو مرضونو نه پناه غواړم. (صحيح الجامع: ۱۲۸۵ ، د انس رضي الله عنه په روايت )

**له ظلم نه پناه وغواړئ:**

عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أنَّ النبيَّ صلَّى اللهُ عليْهِ وسلَّمَ كان يقولُ: اللَّهمَّ إني أعوذُ بك من القِلَّةِ والفقرِ والذِّلَّةِ، وأعوذُ بك أن أَظْلِمَ أو أُظْلَمَ" (النسائي:٥٤٧٧).

نبي کریم صلی الله علیه وسلم به ویل: ای الله زه درپوري له لږوالي او فقر او ذلت نه پناه غواړم، له تا پورې له دې نه پناه غواړم چې یا ظلم وکړم او یا رابانديې ظلم وشي. ( سنن النسائي: ۵۴۷۷، د ابوهریره رضي الله عنه په روايت ).

**له شرک نه پناه غوښتل:**

عن أبي بكر الصديق رضي الله تعالى عنه قال: قال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ: "الشركُ فيكم أخفى من دبيبِ النملِ، وسأدلُّك على شيءٍ إذا فعلتَه أذْهَبَ عنك صَغارُ الشركِ وكبارُه،



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

تقولُ: اللهمَّ إني أعوذُ بك أنْ أُشرِكَ بك وأنا أعلمُ، وأستغفرُك لما لا أعلمُ" صححه الألباني في (صحيح الجامع:٣٧١٣).

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وایي: شرک په تاسو کې د میږي د خپو له اواز نه هم ډېر پټ دی، زه به درته یو څه دروښایم چې کله یې وکړې نو لوی او کوچنی شرک به درنه بوځي، داسې وایه: ای الله ! زه له تا پورې پناه غواړم چې پوهیږم او شرک درسره وکړم، او د هغې درنه بخښنه غواړم چې پوهه پرې نه شم. ( صحیح الجامع: ٣٧١٣ ، د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په روایت ).

**هره وريځه د رحمت نه وي:**

عن أم المؤمنين عائشة رضي الله تعالى عنها قالت: "أنَّ النَّبيَّ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ كانَ إذا رأى ناشئًا في أفُقِ السَّماءِ تركَ العملَ وإن كانَ في صلاةٍ، ثمَّ يقولُ: اللَّهمَّ إنِّي أعوذُ بِكَ من شرِّها، فإن مُطِرَ قالَ: اللَّهمَّ صيِّبًا هَنيئًا" (أبو داود:٥٠٩٩).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

عائشه رضي الله عنها وايي: د اسمان په کنارو کې چې به کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم وريځ وليدله خپل ټول کارونه به يې پرېښودل او ويل به يې: ای الله! له تا پورې يې د شر نه پناه غواړم، کله چې به باران شو بيا به يې ووېل: ای الله! ښايسته او نرم باران وکړه. ( سنن ابوداود: ٥٠٩٩ ).

**د دنيا او اخرت له تګسټيا نه پناه:**

عن أم المؤمنين عائشة رضي الله تعالى عنها قالت: " كان رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ إذا هبَّ مِن الليلِ كبرَّ عشرًا وحمَّدَ عشرًا ، وقال: سبحانَ اللهِ وبحمدِه عشرًا ، وقال: سبحانَ الملكِ القدوسِ عشرًا ، واستغفرَ عشرًا ، وهلَّلَ عشرًا ، ثم قال: اللهم إني أعوذُ بك من ضيقِ الدنيا وضيقِ يومَ القيامةِ عشرًا ، ثم يَفتتحُ الصلاةَ." (أبو داود:٥٠٨٥).

نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې دشپې له مخې کله راپورته شو، لس ځله به يې الله اکبر، لس وارې به يې الحمدلله، لس وارې به يې سبحان الله وبحمده، لس وارې به يې سبحان الملک القدوس، لس وارې به يې استغفر الله، لس

واري به يې لا اله الا الله وويل، بيا به يې لس واري وويل: اى الله، له تا پورې د دنيا او د اخرت له تنګستيا نه پناه غواړم، بيا يې لمونځ ( تهجد ) شروع کړ. ( سنن ابوداود: ۵۰۸۵، د عائشې رضي الله عنها په روايت )

**د بدترينو عملونو نه پناه غوښتل:**

عن أم المؤمنين عائشة رضي الله تعالى عنها قالت: " كان رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ يقول: "اللهمَّ! إني أعوذُ بك من شرِّ ما عملتُ، وشرِّ ما لم أعملْ" . وفي رواية: "ومن شرِّ ما لم أعملْ" (مسلم:٢٧١٦)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به ويل: اى الله! زه له تا پورې له هغو بدو عملونو نه پناه غواړم چې ما کړي دي او د هغو بدو عملونو نه چې ما لا نه دي کړي. ( صحيح مسلم: ۲۷۱۶ ، د عائشې رضي الله عنها په روايت ).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**د خپلو اندامونو له شر او شرارت نه پناه غوښتل:**

عـن شـكل بـن حميـد العبسيـ رضي الله تعـالى عنـه قـال: أتيـتُ النبـيَّ صـلَّى اللهُ عليـهِ وسـلَّم فقلـتُ يـا رسـولَ اللهِ عَلِّمْنِـي تَعَـوُّذًا أَتَعَوَّذُ به قال فأخـذ بكَفِّـي فقـال قـل اللهـم إني أعـوذُ بـك مـن شرِّ سـمعي ومـن شرِّ بصري ومـن شرِّ لسـاني ومـن شرِّ قلبـي ومـن شرِّ مَنِيِّي -يعني فَرْجَه" (الترمذي:٣٤٩٢).

شَكْلِ بْـنِ حُمَيْـد رضي الله عنـه وايـي چـې زه رسـول الله صـلى الله عليه وسلم ته راغلـم ورتـه مـې وويـل: ای د الله رسـوله! مـا تـه د پناه نيولو كلـمات رازده كـړه، هغـه مـې ورغـوې ونيـول او راتـه يې وويل: داسـې وايـه: ای الله! لـه تـا پـورې د خپلـو غوږونـو، د خپلـو سـترګو، د خپلـې ژبـې، د خپـل زړه او د خپـل فـرج د شر او شرارت نه پناه غواړم. ( سنن ترمذي: ۳۴۹۲ ).

**له بداخلاقۍ نه پناه غوښتل:**

عن قطبـة بـن مالـك رضي الله تعـالى عنـه قـال: " كـان النبـيُّ صـلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ يقولُ: اللهـم إِنِّي أعـوذُ بـكَ مـنَ مُنْكَـراتِ الأخـلاقِ والأعمالِ والأهواءِ" (الترمذي:٣٥١٩)



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

نبي کريم صلی الله علیه وسلم بـه ویـل: ای الله ! لـه تـا پـورې لـه بـد اخلاقـۍ نـه، لـه ناکـاره عملونـو او هـوا پرسـتۍ نـه پنـاه غـواړم. ( سـنن ترمـذي: ۳۵۱۹، د قطبـه بـن مالـک رضي الله عنـه په روایت).

**د شیطان له ټولو دسیسو نه پناه غوښتل:**

عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعـالی عنـه قـال: كـان النبـيُّ صـلَّى اللهُ عليــه وســلَّمَ يقــولُ: "اللَّهــمَّ إنِّي أعــوذُ بِــكَ مــنَ الشَّــيطانِ الرَّجيمِ، وَهَمزِهِ، ونفخِهِ، ونفثِهِ (ابن ماجه:٦٦٥).

نبي کريم صلی الله علیـه وسـلم بـه ویـل: ای الله! زه لـه تـا پـورې د رټل شوي شیطان نـه، د هغـه لـه وسوسـې نـه، د هغـه دکفـرې عقیدې نه، او د هغه د سـحر نـه پنـاه غـواړم. ( سـنن ابـن ماجـه: ۶۶۵ ، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روایت ).



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

**د کور نه د وتلو په وخت کې له جمله شرونو نه پناه غوښتل:**

عن أم المؤمنين أم سلمة رضي الله تعالى عنها قالت: "ما خرج النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّم من بيتي قطُّ إلا رفع طَرْفَه إلى السماءِ فقال اللهم أعوذُ بك أن أَضِلَّ أو أُضَلَّ أو أَزِلَّ أو أُزَلَّ أو أَظْلِمَ أو أُظْلَمَ أو أَجْهَلَ أو يُجْهَلَ عَلَيَّ" (أبو داود: ٥٠٩٤).

ام سلمه رضي الله عنها وايي: زما له کوره نبي کريم صلى الله عليه وسلم هېڅکله نه دی وتلی مگر اسمان ته يې سترگې پورته کړې او وبه يې ويل: ای الله له تا پورې له دې نه پناه غواړم چې يا خپله گمراه شم او يا بل گمراه کړم، يا خپله وښوئيږم او يا بل وښويوم، يا خپله ظلم وکړم او يا رابانـدې ظلم وشي، يا خپله جهالت وکړم او يا رابانـدې جهالت راشي. ( سنن ابو داود: ۵۰۹۴ )

**له بد گاونډ نه پناه غوښتل:**

عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال: " كان النبيُّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ يقولُ في دعائِه: اللَّهمَّ! إنِّي أعوذُ بك من جارِ السَّوءِ



المسموحة ضوئيا بـ CamScanner

في دارِ المُقامـةِ ؛ فـإنَّ جـارَ الباديـةِ يتحـوَّلُ" (النسـائي:٥٥١٧) وصححه الألباني في (صحيح الترغيب:٢٥٥٦).

نبي كريم صلى الله عليه وسلم بـه خپلـي دعـا كـې ويـل: اى الله! زه لـه بـد كليـوال گاونـډي نـه پنـاه غـواړم، ځکـه بانـډه چـې گاونـډي تلـونکی دی (وخـت يـې كـم وي ) ( سـنن النسـائي: ٥٥١٧ ، د ابوهريره رضي الله عنه په روايت ).

**د خپلې ښځې او خادمانو له شر نه پناه غوښتل:**

عبـد الله بـن عمـرو رضي الله تعـالى عـنهما قـال: قـال رسـولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسـلَّمَ: "إذا تـزوَّجَ أحـدُكمُ امـرأةً أوِ اشـترَى خادِمًـا فليقلِ اللَّهمَّ إنِّي أسألُكَ خيرَهـا وخـيرَ مـا جبلتَهـا عليـهِ وأعـوذُ بِـكَ مـن شرِّهـا ومـن شرِّ مـا جبلتَهـا عليـهِ وإذا اشـترى بعـيرًا فليأخـذ بذروةِ سنامِهِ وليقل مثلَ ذلِكَ" (أبو داود:٢١٦٠).

نبي صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايي: تاسـو كـې چـې كلـه څـوک ښځه وكـړي او يـا غـلام ( مـرى ) واخلـي نـو ودې وايـي: اى الله! زه يې له تا نه د خير او بركـت سـوال كـوم او د هغـه خـير چـې



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

تا وربانـدې دا پیـدا کـړی دی، او لـه تـا پـورې یـې د شر نـه پنـا غـواړم او پـه کـوم شر چـې تـا پیـدا کـړی دی. ( سـنن ابـوداود: ۲۱۶۰، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه په روایت ).

**د الله په نعمتونو پورې د الله له عذابونو نه پناه غوښتل:**

عن أم المؤمنين عائشـة رضي الله تعـالی عنهـا قالـت: فقـدتُ رسـولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ ليلـةً مـن الفـراشِ فالتمسـتُه فوقعـتْ يـدي على بطـنِ قدميْـه وهـو في المسـجدِ وهـما منصـوبتانِ وهـو يقـول: "اللهـم أعـوذُ برضـاك مـن سـخطِك، وبمعافاتِـك مـن عقوبتِـك، وأعـوذُ بـك منـك لا أُحْصي ثنـاءً عليـك أنـت كـما أثنيـتَ عـلى نفسِك" (مسلم:٤٨٦).

عائشه رضي الله عنها وایـي: یـوه شـپه کـې رانـه رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم ورک شـو، لټـه و مـې چـې پـه سـجده پـروت و او زمـا لاسـونه یـې د خپـو پـه تَلُـو ولګیـدل او دواړه خپـې یـې ودرولـې وې، او ویـل یـې: ای الله! سـتا پـه رضـا پـورې سـتا لـه غضـب او غصـې نـه پنـاه غـواړم، سـتا پـه عفـوې پورې سـتا لـه عذاب نه پناه غواړم، سـتا نـه پـه تـا پـورې پنـاه غـواړم چـې سـتا



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

مستحقه ثنا به ونه شيم ويلای، هغسې چې تا په خپل ځان ثنا ويلې ده.

**اسلام لويه سرمايه ده د ثبات سوال يې په کار دی:**

عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال: " كان رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ يدعُ: اللهمَّ احْفَظْني بِالإسلامِ قائِمًا، واحْفَظْني بِالإسلامِ قاعِدًا، واحْفَظْني بالإسلامِ رَاقِدًا، ولا تُشْمِتْ بي عَدُوًّا حاسِدًا، حسنه الألباني في (السلسلة الصحيحة:١٥٤٠).

نبي کريم صلى الله عليه وسلم به دا دعا ويل: د ولاړې په حالت کې په اسلام باندې محفوظ وساته، د ناستې په حالت کې مې په اسلام محفوظ وساته، د خوب په حالت کې مې په اسلام محفوظ وساته، په ما باندې کينه گر دښمن مه خوشحالوه. ( سلسلة الصحيحة: ۱۵۴۰، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت )



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

## هیواد والو د دیني پوهاوۍ باورې سرچینه

Www.larkhud.com



الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner